# د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو د وزیری پیغام

زه په خوشحالی تاسو ته دې انځوریز ننداړتون "*له کوچنیو شیانو نه یادونه*" ته په راتلو هرکلی وایم. دا ننداړتون د افغانستان د خلکو سره زموږ د شراکت د ژوروالي او پراخوالی په اړه یو ثبوت دی.

زموږ اړیکی په ۱۱ سپتمبر ۲۰۰۱ کښې نه دی پیل شوی. ددې دوستی نېټه ۱۹۱۰ لسیزې شاته ته رسي. د افغانستان د آزادۍ او زموږ د ډیپلوماتیکو اړیکو څخه مخکې. د ۱۹۳۰ز څخه تر ۱۹۷۰ز پورې، د امریکا متحده ایالتونو د افغانستان دولت سره د یوه نوي ملت په جوړولو کښې د مرستې کولو لپاره همکاري وکړه. موږ د افغانستان د ولس سره د شوروي ښکیلاک پر ضد د هغوی په هلو ځلو کښې ترڅنګ ودرېدو. اوس امریکا د دوي سره د داسې دښمنانو پر ضد ولاړه ده څوک چې د دوي خوندي ټولنه بې ثباته کول او وېرول غواړي.

دا ننداړتون، سره له ځینو هغه پېښنو د عکسونو په وسیله چې زموږ اړیکې یې په دې دومره کلونو کښې پیاوړې کړې دي، زموږ اوږد تاریخ ثبتوي. زموږ د ګډو ارزښتونو، د ګډو ګواښونو او دښمنانو پر خلاف زموږ یووالی او د زیاتې خوندي نړۍ لپاره زموږ ژمنې، زموږ خپل منځی دوستی ژوره کړې او د خلکو ترمنځ یې اړیکې ټینګې کړې دي.

په دغه عکسونو کښې به تاسو د دولتي مشرانو ترمنځه رسمي ملاقاتونه او زموږ د اتباعو ترمنځ تبادلې وګورئ. د دې ټولو هدف یو دی: په ګډه د یوې ښې نړۍ جوړول.

"*له کوچنیو شیانو نه یادونه*"، چې په واشنګټن ډي سي کې د میریډیان نړیوال مرکز له اړخه ترتیب شوې دی، د هغه نه شلېدونکو اړیکو یوه یادونه ده کوم چې زموږ دواړه هېوادونه سره یوځای کوي. او د یوې زیاتې خوندي او ښېرازه نړۍ په لوري زموږ د هلوځلو دوه برابره کولو یوه غوښتنه ده.

په درناوی

هلري روډم کلنټن
د بهرنیو چارو وزیره
د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت